سلام خان

۲۰۱۲/۰۱/۰۹

# افغانستان یو نه وېشیدونکی هیواد دی

په ځینو پرېښنایي ویب پاڼو کې دا دوی ور ځی داسې رپوټونه خپاره شوي دی چې وايي ځيني افغانان و جرمني ته د افغانستان د فدرالي کيدو پر سر د ځينو امريکايی سناتورانو سره خبرو ته را بلل شوی دي. دا چې دغه رپوټونه تر کومه موثق دي او ددې خبرو اصلي موخه همدا د افغانستان فدرالي کيدل دي او که بل څه؟ دا به په دکنفرانس تر ختميدو وروسته روښانه شي، دځينو را پورونو پربنياد د امريکا د کانګريس له يوشمير غړيو سره د افغانستان د شمال د يوشمېر قومي ګوندونو او مشرانو غونډه به ددوشنبی په ورځ، دافغانستان ۲۰۱۴؛ فرصتونه او ستونزې تر عنوان لاندی دجرمنی په اسپين انستيتيوت کې جوړېږي، په دغه کنفرانس کی، د ملي ايتلاف مشر عبدالله عبدالله، د ملي اسلامي غورځنګ مشر جنرال عبدالرشيد دوستم، د اسلامي وحدت ګوند مشر عبدالکريم خليلي، د ملي جبهې رييس احمد ضيا مسعود، د وحدت ګوند مشر محمد محقق، د بلخ والي محمد عطانور، د ولسي جرګې پخوانی رييس يونس قانوني، د ملي امنيت پخوانی رييس امرالله صالح، د افغانستان د ورځپاڼو د شبکې رييس ډاکتر حسين ياسا او د ملي جنبش مرستيال فيض الله ذکي ګډون او ويناوې کوي، د امريکا له لوري د



استازو د جرګې د کليفورنيا د ۴۶ يمې حوزې غړی ډانا روهرابکر، د استازو د جرګې غړی لاريټا سانچيز(د کليفورنيا) چې د وسله والو خدماتو د کميټې عړيتوب لري، د ټکساس ايالت استازی لويي ګوهمرت چې د استازو جرګې د عدلي کمېټې مرستيال رييس دی، او ستيف کينګ چې د لوا د سيمې استازی دی، په دې کنفرانس کې برخه لري، که څه هم ځينو افغاني رسنيو د دوی د بحث موضوع د افغانستان فدرالي کيدا بللې خو لا هم څرګندنه نه ده چې دوی به په کومو مسايلو خبرې وکړي؟ که چيری کريم خليلي چې په عين حال کی دافغنستان دولسمشری دوهم مر ستيال هم دی په نوموړی غونډه کی ګډون ولری نو په هغه صورت کی دنوموړی غونډی سره دافغانستان دولسمشر حامد کرزی موافقه هم حتمی ده په دی صورت که په بهر کی دځينو افغانانو تبصری او ځيرنی چې وار دمخه يې دافغانستان دويشلو په باب لری بيځايه دې، زما په اند ممکن تر ډېره حده ددغی غونډی هدف دطالبانو، امريکايانو او جرمنی ترمينځ دسولی خبری وی کوم چې غواړی په قطر کی يې دطالبان درسمی دفتر تر پرانيستلو وروسته تر سره کړې. چې دنوموړی ډلی هغه انديښنی رفع کړی کوم چې دطالبانو او امريکا دخبرو پر اساس يې له ځانه سره لرې. دا ځکه چې آلمان له طالبانو سره د خبرو له پاره مهم نقش لوبولی دئ، لومړی ځل يی مهمه کتنه د۲۰۱۰ کال دنومبر په مياشت کی دالمان دمونشن په ښار کی وشوه د آلمان د شپيګل مجلې د يو رپوټ له مخي په قطر کي د طالبانو له پاره د يو سياسي دفتر د جوړولو په خبرو اترو کي د آلمان حکومت د يو منځګړي په توګه نقش لوبولی دئ، په رپوټ کي ويل شوي دي چې آلماني استازو د ۲۰۱۰ کال له پيل څخه د امريکا د متحده ايالاتو او طالبانو ترمنځ د اړيکو په ټينګولو کي د منځګړي په توګه کار کړی دئ. د نوموړي مجلې په رپوټ کي همدا راز يادونه شوې ده چې په قطر کي د طالبانو له پاره د يو دفتر جوړول د دغي پټي ديپلوماتي له مهمو هڅو څخه شميرل کيږي، د طالبانو يوه ډله چې مشري ئې د طيب آغا پر غاړه وه، د فارس له خليج څخه د الوتکي په واسطه مونشن ته وليږدوله، چي هلته په غونده کي د لومړي ځل له پاره طالبانو د متحده ايالاتو د حکومت له يوه پلاوي سره وليدل، په دغه پلاوي کي دالمان د بهرنيو چارو د وزارت او د استخباراتي اداري مامورين شامل ول. بنا د جرمنی دهيواد دغه نوې هڅه هم دمخکنيو هڅو او تلاشونو سلسله ده چې غواړی دا ځل يی د طالبانو له مقابل لوری يعنی دهيواد دشمالی برخو دمختلفو قومونو او ايتلافونو له استازو سره تر سره کړې.

افغانستان يو نه وېشيدونکی هيواد دی او د افغانستان ټول وګړي پرته له تعصبه د دغه هيواد وګړي دي او مساوي حقوق لري. د افغانستان ټول وروڼه قومونه پرته له دې چې په يو ټولنيز چاپيريال کې ژوند کوي، نو له يو او بل سره د دين، وينې او مينې په رښکی هم سره وصل شوي دي او ټول يو ګډ افغاني ذهنيت هم لري، په موجوده شرايطو کی په افغانستان کې د فدارلي سيستم تيوري يوه نا معقوله بې بنسټه او نه پلې کيدونکې تيوري ده. افغانستان يو موټی، نه بيليدوکی او د ورونو قومونو هيواد دی. د افغانستان وګړي به تر پايه د خپل هيواد د ملي ارزښتونو لپاره مبارزه وکړي او پرې به نږدي، چې هيواد يې په ټوټو ووېشل شي، يو او بل ته بې تجريد او يا ورټل شي او يا هم زموږ په لرغوني هيواد کې د دوښمنانو د سياسي لوبو د لاسوهنو زمينه ورته برابره شي .

پای


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ